مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۱۰/۲۱

# لنډیو اصلي منابع خلک دي

## ۵۲مه برخه

لنډۍ، د ښتولو ستونزه

۴۰۵مه برخه

ولور دې ډېر، تنخا مې کمه
وطن پرېږدمه، قاچاقي خارج ته ځمه

پر دېوال غلې غونډې واوره
نور د سهار اذان کوي، غرقه به شمه

د پنجابي ساتلی چرګ يې
داني د قام خورې، هسې مه وهه بانګونه

ښاغلي عبدالعزيز نائيبي بيا د خپلو فرهنګي مهربانيو له مخې يوشمير لنډۍ رالېږلي دي چې وروسته له چاڼ نه به يې له تاسو درنو لوستونکو سره شريکي کړم. ده په پيل کې داسې راته ليکلي دي:

«ګران استاده سلامونه نيکې هيلې ومنې!

تېر ځل او تر هغه وړاندې مې چې کومې لنډۍ دراستولې وې د شمير په حساب بيخي برابرې وې، يعنې ۳۲ جمع ۳۲ چې شي ۶۴، دا چې سل پوره شي نو ۳۶ نورو به نن ورسره جمع کړو.»

دا هم د ښاغلي نائيبي رالېږلي لنډۍ:

خو لنډۍ:

د جانان زړه دې رانه بد کړ
د ژبې سره، په قيچي دې پرې کومه

د ږيګي زور مې ختم شوی
ژونده مزل رالنډوه، ستړې دې کرمه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

**د پنجابي ساتلی چرگ يي**
**داني د قام خورې، هسې مه وهه بانگونه**

**د ميني يو ټولگی عالم دی**
**له بېلتانه سره تر شام پورې پوځونه**

**د پېغلتوب خاطر مي وکړه**
**بېلتونه مه کوه بې وخته گُزارونه**

**د قاچاقبرو کور دې وران شي**
**جوني سرتورې، مينډې بورې ناستې دينه**

**د بپوسی نه ډکه ژونده**
**خواږه دې نهشته، د اجل ترې دې کړمه**

**د خوشحالی ساعته راشه**
**بېلتون مې دواړه متې تاو کړې مړ يې کړمه**

**د کبرجن، کبر زوال کړې**
**په سلامي مې ورته ستړې شول لاسونه**

**په تلو دې نه يمه جانانه**
**په بې‌ننگی دې خلک جمې جوړوينه**

**په زړه کې سل قسمه وخورم**
**دا بېغيرته سترگې بيا درواړومه**

**پر سره نری لوپټه نه وړم**
**په زړه درنې خبرې ستا د دادا وړمه**

**په اشارت مې نه پوهېږې**
**سخوندره ځو به غړوندی درپسې وړمه**

**پر دېوال غلی غونډې واوړه**
**نور د سهار اذان کوي، غرقه به شمه**

**موزيگې بله توره وکړه**
**له خميرې نه يې مچان شړلې دينه**

**مدام دې بد راسره کړي**
**کومه خوږه خاطره نه درنه لرمه**

**موږه ترلي وو لښتي، لښتي**
**داسې تالا شو لکه مې په درمندونه**

**ما ته دې وېل چې مه ځه، مه ځه**
**اوس رانه مخکې کډې تا ترلي دينه**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ

مسافري کې دې زړه تنگ شه
چې په لسمه ورځ دې کور کې ووینمه

مسلماني دې رانه یوړه
داسې کافرې سترگې خدای درکړي دینه

ولې په ځیر، ځیر راته گورې
صورت هغه دی، اندېښنو خوړلی یمه

ولور دې ډېر، تنخا مې کمه
وطن پرېږدمه، قاچاقي خارج ته ځمه

چندان مئین دربانديې نه یم
په بام درببگم، زړه نیا دې ځورومه

چې ستا واده وي، ما خبر کړه
په خپلو وینو به لاسونه سره کومه

خدایه خپل ښه راته بدیږي
چا ته چې ښه گورمه ډېر مې ژړوینه

خدای‌پاماني هم لوی عذاب دی
لالی چې تللی، زړه مې ځای ته نه راځینه

څه به جانان، څه به يې ښه وي
ما ته یې ټول عمر راکړي دي غمونه

ښنگه قدم درپسې واخلم
بخت مې په پښو پورې وهلي دي میخونه

یواځې ستا په مخ کې گونگ شم
کنه د کلي، قوم خبرې خلاصومه

یار مې پېغور د نیستی راکړو
که د قاچاق لارې خنجر شي، پرې ورځمه

زما د زړه ازار به واخلي
په خړو خاورو باندې مه کېنه مئینه

زړه مې نري درزونه وکړل
لکه دېوال چې زلزلې وهلی وینه

زړه دې ښه مست راکړی خدایه
د تندي کرښې دې کړې راکړي دینه

عقل په عشق کې غمازي کړي
چې لېونتوب شي، سرې یار ته رسوینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**کلی په تا باندې اباد و**
**بې له تا غولي بـړبوکی جارو کوینه**

**شال يې شمال لـه سره يووړ**
**په تیـږو ما ولي چې تا ته مې کاتنه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ